


# د افغانستان په سوېل کې د جګړې او سولې سیمه ییز لاملونه:

## د سولې لپاره د سیمه ییزې غونډې موندنې




جولای ۲۰۲۱

**د سولې په لور** د فرېډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ګډه پروژه ده.

دغه پروژه په اوو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، بامیان، ننګرهار او کابل کې د سولې فرصتونو او پر وړاندې یې شته محلي خنډونو په اړه د نظر د منظمې راکړه ورکړې اسانه کولو لپاره ډیزاین شوې ده.

دغه پروژه د سولې لپاره سیمه ییزې غونډې جوړوي ترڅو افغانان «چیرې چې میشت دي» د خبرو اترو، نظر راکړه ورکړې او فعالیتونو له لارې د شخړو هوارولو په برخه کې ونډه واخلي. په پایله کې، دغه پیښې د سولې لپاره د یوه ګډ لیدلوري رامنځته کولو په موخه د ټولنې په کچه د یوه فعال مشارکت هڅونه کوي. تصویري رسنیز خپرونې او تولیدات مرسته کوي چې ملي، محلي او نړیوال ګټه اخیستونکي په دې اړه خبر شي او په راتلونکې کې د ګډون لپاره سپارښتنې وړاندې کړي.

دغه لنډیز د لیکوالانو، لوسیل مارتین او سعید پرتو، له خوا د فرېډریش ایبرټ بنسټ (SEF)، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې (ORPPA) او میډیوټیک د افغانستان د پراختیا او سولې سازمان (OPDAM) ترمنځ د همکاریو د یوې برخې په توګه چمتو شوی دی.

د ۲۰۲۱ کال د مارچ په ۱۵ مه، د سولې لپاره سیمه ییزه غونډه په کندهار ښار کې جوړه شوه چې په کې د افغانستان له څلورو ولایتونو: کندهار، هلمند، ارزګان او زابل څخه د مدني ټولنې استازو ګډون درلود. لاندې د هر ولایت د نفوس، جغرافیې، اقتصاد او جګړې په اړه لنډه کتنه وړاندې کېږي. ورپسې به د غونډې جوړېدو پر پروسې لنډه کتنه ولرو او په پای کې به د بحثونو د عمومي پایلو لنډیزوړاندې شي.

## شالید

پورته یاد څلور ولایتونه د لوی کندهار په فرهنګي او جغرافیایي مجموعې پورې اړه لري او په لویدیځ کې د فراه اوسنی ولایت په سویل لویدیز کې د نیمروز ځینې برخې او د ډېورنډ کرښې پورې غاړه بلوچستان کې د جنوبي پښتونخوا ټولې سیمې تر پوښښ لاندې نیسي.

په څلور واړه ولایتونو کې هرڅومره چې د ولایتونو له مرکز او لویو کلیو لرې شو ، زیربناوې په زیاتېدونکې ډول کمزورې کیږي،په داسې حال کې چې له دولتي ښوونځیو، کلینیکونو او خدماتي مرکزونو واټن ډیریږي.

دغو ولایتونو په ۲۰۲۰ کال په ښوونځیو کې د نجونو د شمولیت تر ټولو ټیټه کچه لرله، دومره چې له ۳۹ سلنه ملي منځنۍ کچې هم ډېره ښکته وه: دغه شمېره په ارزګان کې ۲۲ سلنه، په هلمند کې ۲۱ سلنه، په زابل کې ۲۲ سلنه او په کندهار کې ۲۵ سلنه ده (NSIA, 2021). د یادو ولایتونو له ډلې درې هغه تر ۷۰ سلنه لوړې څو اړخیزې بېوزلۍ په لرلو سره، د هېواد له خورا بېوزله ولایتونو ګڼل کېږي: زابل ۷۷ سلنه، هلمند ۷۴ سلنه او ارزګان ۷۱ سلنه بېوزلي لري(NSIA, 2019) .

**۱ شکل: د نفوس اټکل (2020)**

| ولایت | ښاري | کلیوالي | ټول |
|---|---|---|---|
| کندهار | ۵۲۳,۲۵۹ | ۸۷٦,۳۳۵ | ۱,۳۹۹,۵۹٤ |
| هلمند | ۱۰۰,۳٦۱ | ۱,۳٤۵,۸٦۹ | ۱,٤٤٦,۲۳۰ |
| ارزګان | ۱٦,۰٦۸ | ٤۲۰,۰۱۱ | ٤۳٦,۰۷۹ |
| زابل | ۱۳,۰۰۹ | ۳۷۱,۳٤۰ | ۳۸٤,۳٤۹ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره (2021)

څلور واړه ولایتونه او په ځانګړې توګه هغه ساحې چې له ولایتي مرکزونو فاصله لري، د نا امنیو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د دولت مخالفو وسله والو ډلو ترمنځ د دوره یي نښتو لوړه کچه لري. کندهار او هلمند د دغو ولایتونو له ډلې تر ټولو ډېر جنګې فعالیتونه لري، د دغو جګړو راپور د ۲۰۱۹ د نوامبر او د ۲۰۲۰ د اکتوبر ترمنځ ورکړل شوی (UNSG, March 17, 2020; UNSG December 9, 2020).

د امنیتي ځواکونو، دولتي کارکوونکو، د رسنیو او مدني ټولنې فعالانو هدفي وژنې له ۲۰۱۸ کال راهیسې په

کندهار، هلمند او زابل کې زیاتي شوي دي (Ruttig, 19 October 2018; Faizi, 26 September 2019; Abed and Faizi, 2 January, 2020).

**۲ شکل: د ښاري او کلیوالي نفوس ونډه**




د احصاییې او معلوماتو د ملي ادارې د معلوماتو په بنسټ (2021)

**کندهار** له سویل او ختیځ پلوه له پاکستان، له شمال پلوه له ارزګان او زابل او له لویدیځ پلوه له هلمند سره ګډه پوله لري. لکه څرنګه چې په ۱ او ۲ شکلونو کې لیدل کېږي، کندهار د یادو ولایتونو له ډلې ترټولو ښاري شوی ولایت دی چې ۳۷ سلنه وګړي یې په ښاري او تر ډېره د کندهار ښار په داخل او شاوخوا کې ژوند کوي. د دغو ولایتونو د اکثریت وګړو لومړۍ ژبه پښتو ده او دری ژبې «یا فارسي وان» ټولنې تر ډېره په ښاري سیمو او بلوخ لړکی په دښتو کې ژوند کوي.

کندهار ښار چې د کابل – هرات او د بلوچستان د مرکز کوټې د لویو لارو په تقاطع کې پروت دی، د افغانستان په سویل کې اصلي سوداګریز مرکز او د هېواد دویم لوی ښار ګڼل کېږي. دغه ښار د هېواد سویلي برخې له پاکستان سره تړي چې له سپین بولدک څخه تر چمن او کوټې پورې ادامه لري. دغې پولې ته د قاچاق د لوی مرکز په سترګه کتل کېږي (Sabawoon and Ruttig, August ۱۲, ۲۰۱۹).

د کندهار ښار تاریخچه چې ویل کېږي د مقدوني سکندر له خوا تأسیس شوی او په ۱۸ میلادي پېړۍ کې د لومړني افغان امپراتورۍ کوربه و او دغه راز د منځنۍ آسیا د سوداګریزو لارو پر مخ د دغه ستراتیژیکي موقعیت سبب شوی چې تر نن ورځې د یوه ستر سوداګریز او سیاسي مرکز نوم یې پخپل کړي (Britannica, 2013).

کندهار ولایت د طالبانو اصلي ټاټوبي ګڼل کېږي او دغې ډلې د حکومت پرمهال کندهار ښار خپل مرکز ټاکلی و (۲۰۰۱-۱۹۹۶). کندهار له پاکستان سره د ګډې پولې لرلو له امله، د طالبانو لپاره یو ستراتیژیک ولایت وو. دغه راز زابل او هلمند ولایتونه هم د طالبانو لپاره ورته ستراتیژیکي اهمیت لري.

طالبانو له ۲۰۱۶ کال راهیسې د دې ولایت لرې پرتې ولسوالۍ تر خپل کنټرول لاندې راوستې دي؛ خو دغه لړۍ د ۲۰۱۹ کال په اکتوبر کې د ځواکمن سیمه ییز امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق اڅکزي له وژل کېدو وروسته چټکه شوه. له دې سره، مرکزي ولسوالۍ له نسبي ثبات څخه برخمنې دي (Sabawoon and Ruttig, August 14, 2019; UNSG, February 28, 2019).

**هلمند** د افغانستان له لویو ولایتونو څخه دی چې په سویل کې له پاکستان، په لویدیځ کې له نیمروز، په شمال لویدیځ کې له فراه او غور، په شمال ختیځ کې له دایکندي او ارزګان او په ختیځ کې له کندهار سره ګډه پوله لري. د هلمند سیند چې د ولایت په شمال کې د هندوکش له غرونو سرچینه اخلي او په سویل لویدیځ کې نیمروز ولایت ته بهېږي؛ د دې ولایت د اوبو اصلي سرچینه ده او په دې سره د افغانستان یو له حاصل خېزو ولایتونو ګڼل کېږي. د هلمند ۹۳ سلنه وګړي کلیوالي دي او یوازې ۷ سلنه یې ښاري چې په مرکز لښکرګاه کې اوسېږي. پښتو د دې ولایت د خلکو اصلي ژبه ده خو یو شمېر بلوخ لړکي د ولایت په سویل او هزاره دري ژبي په شمال کې مېشت دي. اټکل کېږي چې د هلمند له ۹۰ زره جریبو ډېره ځمکه د کوکنارو کرکیلې ته ځانګړې ده (UNODC, 2021).

**ارزګان** په شمال کې له دایکندي، په سویل کې له کندهار، په لویدیځ کې له هلمند، په ختیځ کې له غزني او په سویل ختیځ کې له زابل ولایت سره ګډه پوله لري. د دې ولایت اوسنۍ پولې د ۲۰۰۴ کال په مارچ میاشت

کې تاکل شوې، یانې هغه مهال چې ډایکنډي د هزاره وګړو له غوښتنې سره سم له ارزګان څخه جلا شو. د ترینکوټ او غور سیندونه په ترتیب سره د هېواد له شمال ختیځ او ختیځ څخه سرچینه اخلي چې د ترینکوټ ښار په مرکز کې سره یوځای کېږي او بیا پر هلمند سیند ورګډېږي، دغه سیند له دهراوود څخه تېرېږي او له شمال تر سویله امتداد مومي. د سیند څنډو ته پرتې درې د ولایت د کرنیزو تولیداتو اصلي ځایونه دي او له څلورو درې برخې مساحت یې په غرونو پوښلی دی. دېته په کتو سره چې کرنه تر ډېره له سطحي اوبو څخه په ګټه اخیستنې پورې اړه لري، وچکالۍ او د آبي سرچینو ناسم مدیریت د ولایت پر سیمه ییز اقتصاد خورا زیات فشار راوستی.

د دولت شتون ډېرکله تر مرکز ترینکوټ پورې محدود پاتې دی. په ولسوالیو کې د مرکزي دولت نه شتون او د پراخ فساد له امله پر دولت بې باورۍ سبب شوي چې یو شمېر اوسېدونکي د طالبانو عدلي خدمتونو ته مراجعه وکړي (Arabnews, February 9, 2020). په ټول ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کالو کې د دولتي ځواکونو او وسله والو طالبانو ترمنځ د نښتو پر بنسټ راپورونه ورکړل شوي دي. په ۲۰۲۰ کال د ملکي مرګ ژوبلې کچه د ۲۰۱۹ په پرتله ۲۶ سلنه لوړه شوې او لامل یې تر ډېره ځمکنۍ جګړې، په لاس جوړ شوي ماینونه، د ملي امنیتي ځواکونو/ناټو هوایي عملیات ګڼل شوی (UNAMA, 2021).

**زابل** په سویل ختیځ کې له پاکستان، په لوېدیځ کې له کندهار، په شمال لویدځ کې له ارزګان، په شمال ختیځ کې له غزني او په ختیځ کې هم له پکتیکا ولایت سره ګډه پوله لري. زابل د افغانستان له خورا بېوزله ولایتونو څخه ګڼل کېږي (NSIA, 2019). د عامه خدمتونو وړاندې کول په ځانګړې توګه له مرکز قلات څخه د باندې ډېر لږ دي. په دې ولایت کې د دولت ضد احساسات ځکه ډېر شدید دي چې د طالبانو له اصلي مرکزونو ګڼل کېږي. په ۲۰۱۹ کال کې د دې ولایت امنیتي شرایط مخ پر خوړ روان شول داسې چې یوازې یوه ولسوالی د دولت او دوې نورې د طالبانو ترکنټرول لاندې وې (Sa-bawoon, 5 November 2019; Sharafat and Bezhan, 16 December 2018).

زابل د طالبانو له مرکزونو ګڼل کېږي، خو راپورونه وایي چې القاعده او د خراسان اسلامي دولت ځانګه هم په دې ولایت کې فعالیت لري(UNAMA, 2021).

## د سولې لپاره د کندهار غونډه: لنډه کتنه

له یادو ولایتونو څخه ۷۰ تنو (۴۱ نارینه او ۲۹ ښځو) د مارچ په ۱۵ مه د کندهار د سولې په غونډه کې ګډون درلود.

د ګډونوالو ټاکنه د ګروپي بحثونو لپاره د ګډونوالو د ټاکنې په څېر وه چې که څه هم ځوابونه یې شعوري او آګاهانه وو خو په څلور واړه ولایتونو کې د ټول نفوس د نظر په توګه په پام کې نه دي نیول شوي.

د اکثریت ګډونوالو عمرونه له ۲۰ تر ۳۵ کالو او یوازې ۱۵ تنو په کې له ۴۰ کالو پورته عمر درلود. اکثریت ګډون کوونکي لوستي کسان وو. همدارنګه، د ګډونوالو غوڅ اکثریت د ولایتونو له مرکزونو څخه وو. غونډې ته غوښتل شویو دیني علماوو د امنیتي ستونزو له امله ګډون ونه کړ او یوازې ځینو محلي مشرانو ګډون درلود. هغو محلي مشرانو هم ورته دلیل لرل چې په غونډه کې یې ګډون رد کړی و.

### د سولې په اړه د ګډونوالو تمې او غوښتنې

اکثریت ګډون کوونکو د دولت او طالبانو ترمنځ دتړون احتمالي پایلو په اړه او په ځانګړې توګه د ټولنیزو آزادیو په تړاو په ځانګړې توګه د ښځو لپاره اندېښنه وښوده. همدارنګه دوی تمه لرله چې د دواړو غاړو ترمنځ د تاوتریخوالي ختمول ښایي د لا ډېر فزیکي امنیت سبب شي او په پای کې یې زده کړو، اقتصادي فرصتونو او عدالت ته لاسرسی ډېر شي؛ خو په دې شرط چې د دې لپاره اړین ګامونه پورته شي ترڅو له دوی څخه هیڅ یو له تړون څخه سرغړونه ونکړي.



FES، MADPO، /APPRO علي رضا کیهان

په هره غونډه کې ګډونوال داسې کلیدي مسایل په ګوته کوي چې د دوی په ټولنو کې د جګړو پر لاملونواغېز لري. هرکله چې ګډونوال د نظر توافق ته سره ورسېږي، په ګوته شوي مسایل په ګروپونو کې تر بحث لاندې نیول کېږي. هر ګروپ د دې ټکي د ځرګندولو دنده لري چې د تلپاتې سولې شرایطو رامنځته کولو په لاره کې د جګړې عناصر څنګه حل کېدی شي.

### د جګړې سیمه ییز عوامل

د کندهار په غونډه کې څلور په ګوته شوي مسایل عبارت دي:

- د قانون د واکمنۍ نه شتون
- کمزوري اقتصاد
- د ټولنو ترمنځ شخړې، قومي او خانداني کړکېچونه
- د سولې د پروسې په اړه اندېښنې

ورپسې د څلورو ګروپونو استازو د خپلو بحثونو پایله پنل ته وړاندې کړه. په پنل کې د والي د دفتر یوه جګ پوړي چارواکي، د پوهنتون یوه استاد، له زابل او کندهار څخه د بشځو حقونو دوو فعالانو برخه لرله.

د پېژندل شویو ستونزو لنډیز او دا چې د ګډونوالو او پنالیستانو له لیدلوري څه ډول تر غور لاندې نیول کېدای شي، په لاندې ډول دی:

### لومړۍ ستونزه: د قانون د واکمنۍ نه شتون

ګډونوال په دې اړه یوه خوله دي چې په عمومي توګه د اساسي قانون او قانوني چوکاټونو په اړه د معلوماتو کچه په اکثریت ټولنو کې ټیټه ده. حتا هغه مهال چې د قوانینو په اړه نسبي معلومات هم شته، د قوانینو نه اغېزناک پلي کولو، د رسمي حقوقي نظام په اړه د خلکو باور او درناوي ته زیان اړولی. د یوه پنالیست په خبره:

*د اوږدو جګړو او بې قانونۍ له امله، له قانون څخه متابعت نور د خلکو د ژوند یوه برخه نه ده. که چېرې قوانین تنفیذ او ترې پیروي ونه شي، تاوتریخوالی ډېرېږي او حقوق تر پښو لاندې کېږي. د شخړو هوارول مشروعیت ته اړتیا لري او دغه کار اوسمهال یوازې د سپین ږیرو او سیمه ییزو مخورو له لارې امکان لري. که دا سپین ږیري او ځایي مشران قانون تعقیب نه کړي نو هیڅ څوک یې نه تعقیبوي. ...۲ نارینه پنالیست، پوهنتونی.*

په ورته وخت کې، ګډونوال په پراخه توګه په دې باور وو چې ګڼ دولتي چارواکي له قانون څخه ناوړه ګټه اخلي او دغه کار په خپل وار پر دولتي چارواکو د خلکو بې باوري زیاته کړې. د بحثونو په لړ کې یو تکراري لیدلوری دا و چې اداري فساد او واسطه بازي د خلکو د ځورېدنې سبب شوي او رسمي عدلي نظام د هر کار لپاره د بډو او رشوت غوښتنه کوي. په بدل کې ګڼ خلک غوره بولي چې د خپلو شخړو د هوارولو لپاره دیني سرچینو یا هغو دودیزو مکانیزمونو ته مراجعه وکړي چې لږ فاسد دي او چټکې پرېکړې کوي.

### دویمه ستونزه: کمزوری اقتصاد

پراخه بېوزلي او کمزوری اقتصاد له روانو اوږدو جګړو سره د یوه ترکیب په ترڅ کې، افغانستان له خپلو طبیعي معدني شتمنیو او کرنیزو تولیداتو څخه له ګټه اخیستنې راګرځوي. د یوه ګډونوال په خبره، حتی که جګړې هم ودرېږي:

*د یوه سم پلان نه لرلو له امله به اقتصادي وده رامنځ ته نه شي. هېواد به لا هم په بهرنیو مرستو تکیه ولري او عایدات به ونه مومي. ـ۱ نارینه ګډونوال، مدني ټولنه*

یو شمېر ګډونوالو ناهیلي څرګنده کړه او تشریح یې کړه چې هغه تمویلي مرستې بېرته بهر ته لاړې چې کېدای شو په اقتصادي زیربناوو کې ولګول شي. نورو بیا یادونه وکړه چې واسطه بازي او خپل ګمارنه لاهم کاري بازار ته د ګنو کسانو د لاسرسي مخه نیسي.



FES، MADPO، APPRO/ علي رضا کیهان

بېوزلي او د اقتصادي فرصتونو نه شتون هم هغه عوامل ګڼل شوي چې له امله یې ځوانان د دولت د مخالفو وسله والو له خوا جذبېږي:

*هغه ستونزه چې لر پاملرنې ته اړتیا لري، د جګړې او اقتصادي ستونزو ترمنځ اړیکه ده. اوس ټول پوهېږي چې ګڼ شمېر ځوانان د اقتصادي ستونزو له امله له مخالفو وسله والو ډلو سره یوځای کېږي [...] د سولې له هوکړې وروسته باید هڅه وشي چې د سولې له پروسې سره د دغو یوځای شویو ځوانانو لپاره بدیل معیشتونه چمتو شي ترڅو وسله والو جګړو ته د هغوی له بیا ستنېدو څخه مخه ونیول شي. -۲ شمېره ښځینه پنالیسته، مدني ټولنه*

ګډونوالو د اقتصادي ستونزو هوارولو لپاره څو لارې په ګوته کړې. هغوی د کرنیزو تولیداتو له پلوه د هلمند ولایت د پام وړ ظرفیت ته په کتو، د کرنیز ارزښت ځنځیر د پیاوړي کولو پر اهمیت ټینګار وکړ.

یو شمېر له دوی ټینګار وکړ چې د ترانسپورټي زیربناوو په برخه کې د پام وړ پانګونه کولای شي د ملي او نړیوالو بازارونو ترمنځ د توکو د تحرک کچه لوړه کړي. بل وړاندیز دا و چې پانګوال په هېواد کې پانګونې او د صنعتي پارکونو جوړونې ته وهڅول شي.

په پای کې وویل شول چې افغانستان داسې ډېر لوستي کسان لري چې دا مهال وزګار دي. له دغې لویې انساني پانګې باید په غوره توګه کار واخیستل شي.




FES، MADPO، APPRO/ علي رضا کیهان

**درېیمه ستونزه: د ټولنې داخلي شخړې، قومي او خانداني کړکېچونه**

یوه ګروپ یادونه وکړه چې ځواکمنان پر نورو خلکو سترګې پټوي او یوازې د خپلو کورنیو او خپلوانو خدمت ته لېوالتیا لري. دغه راز تشریح شوه چې د ټولنې داخلي اختلافونو او شخړو (د سرچینو په سر یا هم شهرت او احترام ته د زیان رسېدو له امله) د ټولنې په کچه د بې اتفاقۍ شدید خطر رامنځ ته کړی.

ګډونوالو ټینګار وکړ چې د سیمه ییزو شخړو د مخنیوي او هوارۍ په موخه باید د ټولنې خلک د ټولنیزو اړتیاوو پوره کولو لپاره د خپلو ځایي مخورو او دیني عالمانو ټولنیز مسؤلیت ته مخه کړي او د اړتیا پرمهال له یوه درېیم او بې طرف لوري څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړي.

**څلورمه ستونزه: د سولې پروسې په اړه اندېښنه**

د څلورمې ډلې ګډونوالو تشریح کړه چې هم د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو ترمنځ خبرو ته لېوالتیا کمه ده او هم دا چې د سوېلي ولایتونو مېشت خلک د دې پروسې پر بالقوه پایلو بې باوره دي.

د سولې پروسې په اړه د لږو معلوماتو او لېوالتيا لامل د ټولنيزو مسايلو په اړه د معلوماتو شريکولو څرنګوالی ګڼل شوی، په ځانګړې توګه د ښځو لپاره چې ټولنيز ژوند ته لږ لاسرسی لري او له کورنۍ د باندې کسانو سره له اړيکو بې برخې دي.

*د سولې په اړه د پوهاوي او لېوالتيا زياتولو لپاره بايد د ټاکل شوي ټيم غړي په مناسبه بڼه خلکو ته وپېژندل شوي وای. [...] بايد ډاډ ترلاسه شي چې له طالبانو سره مذاکره کوونکی ټيم پوهېږي چې په کندهار کې د جګړې اصلي لاملونه د مثال په توګه په بدخشان کې د جګړې له لاملونو سره توپير لري. - ۱ شمېره ښځينه پناليسته، مدني ټولنه*

په هغو عواملو کې چې د سولې پر پروسې له عمومي بې باورۍ سره مرسته کوي، لږ پوهاوی او د روان وضعيت په اړه د وضاحت نه شتون او د سولې پروسې پايلې شامل دي. له دې سربېره، د مخالفينو له خوا د سولې پروسې په اړه منفي تبليغات هم شته دي.

د سولې له پروسې څخه ناهيلي د امنيتي وضعيت له بدتر کېدو سره نوره هم شدت اخلي. په سوېلي ولايتونو کې د دولت د مخالفو وسله والو ډلو له خوا د هدفي وژنو ډېرېدو، پر محلي استازو يې زيات فشار راوړی دی:

*په افغانستان کې د ديني ارزښتونو ځواک ته په کتو، ديني علما او سپين ږيري کولای شي له ديني او دوديزو ارزښتونو سره سم د سولې ټينګولو لپاره د شرايطو په برابرولو کې رغنده رول ولوبوي، خو دغه کار لا نه دی شوی؛ ځکه چې هغه ديني علما او سپين ږيري هم د وسله والو له خوا په نښه شوي چې تاوتريخوالی يې غندلی يا يې د سولې غوښتنه يې کړې. - ۱ شمېره نارينه پناليست، دولت*

په څرګنده توګه، ګډونوال په دوحه کې د سولې د روانو خبرو اترو په اړه ناهيلي وو او هم يې د افغانستان اسلامي جمهوريت په مذاکراتي ټيم کې د استازيتوب په اړه انديښنې لرلې:

په دوحه کې له طالبانو سره د خبرو کوونکي ټيم د غړيو ټاکنې پروسه له دې هم رڼه او شفافه ترسره کېدای شوه. [...] له طالبانو سره د خبرو لپاره ټاکل شوي کسان، ځانونه د افغانستان عادي وګړو ته په حساب ورکولو مکلف نه بولي. - ۱ شمېره پناليسته ښځه، مدني ټولنه

## پايله

**په کندهار کې د غونډې جوړولو پروسې له شنني څخه څو پايلې ترلاسه کولای شو:**

لومړی دا چې ثابته شوه د سيمه ييزو جګړو د اصلي عواملو پر پېژندلو د ګډونوالو او پناليستانو ور ټولول او دغه راز په سيمه ييزه کچه د تلپاتې سولې شرايطو رامنځته کولو لپاره پر دغو شرايطو کار کول، ستونزمن کار دی. د شخړو د هوارولو او د سولې لپاره د هڅو په اړه د بحث په لړ کې، هغه اساسي ټکی چې ګډونوالو ورته اشاره وکړه، په دوحه کې د سولې روانې خبرې اترې وې. هغوی لږ هيله درلوده چې که د لوړې کچې خبرې ناکامې شي اوسنۍ سيمه ييزه شخړه به حل شي.

دويمه کتنه چې له لومړي ټکي سره اړيکه لري، د مشخصو محلي ستونزو په پرتله په لوړه او عمومي کچه مسايلو تمرکز کولو ته د دولتي چارواکو، روڼ اندو او مدني ټولنې لېوالتيا ده. همدارنګه دا تمايل شتون درلود چې له خبرو اترو او مناظرې څخه بايد د هغو غوښتنو د نوملړ ترتيبولو لپاره د يوه فرصت په توګه ګټه واخيستل شي کوم چې بايد په عالي سطحه د دولت يا نړيوالو تمويلونکو له خوا، پوره کړای شي.

درېيم دا چې اکثريت ګډونوالو د سولې او اقتصادي ودې ترمنځ روښانه اړيکه ليدله. دا واقعيت چې د سولې غوښتونکي د دغو دوو عواملو ترمنځ اړيکه ټينګول غواړي، څرګندوي چې د سولې اجنډا بايد په اوږدمهاله کې د اقتصادي مسايلو د هواري لپاره احکام او پلانونه ولري.

څلورم، د ښځو د حقونو او په عمومي ډول د اساسي حقونو لپاره د ملي سولې د اغېزو په اړه ريښتينې انديښنې شتون لري. دا انديښنه دا هم ښيي چې په ټولو کچو کې د سولې لپاره هر اړخيزه اجنډا بايد د ښځو او نارينه وو د اساسي حقونو د ساتنې لپاره واضح احکام ولري.

پنځم دا چې د محلي زورواکو د قومي اړيکو پر بنسټ د ټولنې د داخلي فاصلو يا درځونو په اړه هم يوه جدي انديښنه شته. يو شمېر ګډونوال وېره لري چې د دغو فاصلو له منځه وړلو په برخه کې ناکامي که هغه د سولې د ټينګښت په صورت کې وي يا هم د سولې د نه شتون، کولای شي په سيمه ييزه کچه د قوم او خپلوی پر بنسټ د تاوتريخوالي پېښېدو سبب شي.

### تصديق

د پوښتنې انځور د محمد عارف کريمي له خوا اخيستل شوی.

### قانوني يادونه او د مسؤليت نه منل

© د کاپي او نورو ټولو حقونو حق د APPRO، MADPO او FES موسسو لپاره خوندي دی.

د دې اثر هېڅ يوه برخه له APPRO (www.appro.org.af) موسسې، MADPO (www.mediothek-afghanistan.org) او FES (www.afghanistan.fes.de) څخه له ليکلې اجازې پرته، د بيا توليد او د بيا موندلو په سيستم کې د زېرمه کولو وړتيا نه لري او اجازه نه شته چې په هره بڼه يا د هرې وسيلې په کارولو سره بل ځای ته ولېږدول شي.

## سرچيني:


Abed, Fahim and Fatema Faizi (2020). Afghan War Casualty Report. The New York Times. 2 January. Available at: https://www.nytimes.com/2020/01/02/magazine/afghan-war-casualty-report-january-2020.html

Britannica, The Editors of Encyclopedia. (2013) "Kandahār". *Encyclopedia Britannica*, 19 June. Available at: https://www.britannica.com/place/Kandahar.

Faizi, Fatima (2019). Afghan War Casualty Report. The New York Times. September 26. Available at: https://www.nytimes.com/2019/09/05/magazine/afghan-war-casualty-report.html

Islamic Republic of Afghanistan, National statistics and Information Authority (2019). Afghanistan Multidimensional Poverty Index 2016-2017: Report and Analysis. Available at: https://www.mppn.org/wp-content/uploads/2019/03/AFG_2019_vs9_online.pdf

Islamic Republic of Afghanistan, National Statistics and Information Authority (2021). Afghanistan Statistical Yearbook 2020. Issue No: 42. Available at: https://www.nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2021/04/Afghanistan-Statistical-Yearbook-first-Version.pdf

Ruttig, Thomas (2018). The Killing of Razeq: Removing the Taleban's strongest foe in Kandahar, an indirect hit at elections. Afghanistan Analysts Network. 19 October. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/the-killing-of-razeq-removing-the-talebans-strongest-foe-in-kandahar-an-indirect-hit-at-elections/

Sabawoon, Ali Mohammad, and Thomas Ruttig (2019). Kandahar from Razeq to Tadin (1): Building the 'American Tribe'. Afghanistan Analysts Network. 12 August. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/kandahar-from-razeq-to-tadin-1-building-the-american-tribe/

Sabawoon, Ali Mohammad, and Thomas Ruttig (2019). Kandahar from Razeq to Tadin (2): The collapse foretold that did not happen. Afghanistan Analysts Network. 14 August 14. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/kandahar-from-razeq-to-tadin-2-the-collapse-foretold-that-did-not-happen/

Sabawoon, Ali Mohammad (2019). Government Rule Confined to Districts and Provincial Centres: Zabul's capital under threat. Afghanistan Analysts Network. 5 November. Available at: https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/war-and-peace/government-rule-confined-to-district-and-provincial-centres-zabuls-capital-under-threat/

Salahuddin, Sayed (2020) Afghans turn to Taliban in forgotten province. Arabnews. February 9. Available at: https://www.arabnews.com/node/1625056/world

Sharafat, Shareefullah. and Frud Bezhan (2018). The Forgotten Afghan Province That is a Key Taliban stronghold. Radio Free Europe/ Radio Liberty. 16 December. Available at: https://www.rferl.org/a/the-forgotten-afghan-province-that-became-taliban-country/29659327.html

United Nations' Assistance Mission in Afghanistan (2021). Afghanistan. Protection of Civilians in Armed Conflict: 2020. Available at: https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_re-

port_2020_revs3.pdf

United Nations Office on Drugs and Crime, and Islamic Republic of Afghanistan: National Statistics Information Authority (2021). Afghanistan opium survey 2019. Socio-economic survey report: Drivers, causes and consequences of opium poppy cultivation. Kabul, Vienna: February 2021.

United Nations - Secretary General (2019). The Situation in Afghanistan and its Implications for International Peace and Security, A/73/777-S/2019/193, 28 February. Available at: https://documents-dds-ny.un.org/doc/UNDOC/GEN/N19/050/66/PDF/N1905066.pdf?OpenElement